دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

PROPERTY OF ACKU

درس قرآن

ای مؤمنانو! د سړیو کومه ډله دې په نورو سړیو ملنډې ونه وهي کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، او نه دې ښځې پر نورو ښځو ملنډې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او یو بل ته بد لقبونه مه ږدئ. له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډېر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوی لوی ظالمان دي. (الحجرات ۱۰ – ۱۱ آیتونه)

درس حدیث

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

کوم سړی چې د روژې د میاشتې یوه روژه هم له څه شرعي رخصت او ناروغۍ پرته وخوري نو که ټول عمر هم روژه ونیسي نو د روژې د میاشتې د یوې ورځې روژې بدل هم نه شي پوره کولې. (ابوداود، ابن ماجه، ترمذی)

شهادت   درېیم کال، ۱۹ مه ګڼه، پرله پسې ۱۱۹ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د زمری ۱۲ مه   د۱۴۳۲ هـ ق د رمضان ۳ مه   د۲۰۱۱ م د آګست ۳ مه

امریکا وسایل نظامی نیروهای ناتو را از افغانستان از طریق زمینی خارج میکند

کابل، رسانه ها:

نماینده خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان در ادامهء گفتگو ها و مشاورت هایش با متحدین افغانستان، از ترکمنستان دیدار داشته و در آنجا روی راه های خروج زمینی وسایل نیروهای ناتو بحث های گسترده داشت.

یک هیات بلند رتبهء امریکایی به ریاست نماینده خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان مارک گراسمن بروز "دوشنبه" در عشق آباد مرکز ترکمنستان با مقامات وزارت خارجهء آن کشور ملاقات نموده و روی همکاری های دو کشور برای تامین امنیت منطقه، بحث های داشت.

دو طرف روی همآهنگ نمودن تلاش ها جهت حل مشکل افغانستان هم بحث کرده و وعده همکاری های جدید را نموده گفتند، چنین همکاری ها برای تامین درازمدت ثبات در منطقه، از اهمیت خاص برخوردار است.

سفارت امریکا در عشق آباد گفته است: مارک گراسمن نمایندهء خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان، در ادامهء مشاورت هایش با شرکای منطقوی و بین المللی افغانستان، به ترکمنستان رفته است.

از سوی دیگر مارک گراسمن به روز دوشنبه به آژانس خبری

بقیه در صفحه ۴

د پاکستان ولسمشر:

با ثباته افغانستان د پاکستان او سیمې په ګټه دی

پژواک:

د پاکستان ولسمشر اصف علي زرداري وایي، چې با ثبات افغانستان د سیمې او نړۍ په ګټه دی او په دې برخه کې یې هېواد د ولسمشر کرزي په مشرۍ له افغان حکومت سره هر ډول مرستې ته تیار دی.

اصف علي زرداري دغه څرګندونې تېره شپه ناوخته په اسلام اباد کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا له ځانګړي استازي مارک ګروسمان سره د خبرو پر مهال کړې دي.

د پاکستان د ولسمشر ویاند فرحت الله بابر له دې لیدنې وروسته له خبریالانو سره د خبرو پر مهال وویل، چې دواړو مشرانو په یاده لیدنه کې د ترهګرۍ پر وړاندې په روانې مبارزې او د افغانستان په وروستیو حالاتو خبرې وکړې.

هغه زیاته کړه، چې په دې لیدنه کې د پاکستان او امریکا په اړیکو کې د را ولاړو ستونزو په اړه هم خبرې وشوې او پرېکړه یې وکړه، چې د دغو ستونزو د هوارولو لپاره به په ګډه هلې ځلې کوي.

بابر وویل، د لیدنې پر مهال ولسمشر زرداري په ډاګه کړه، چې یو قوي او با ثباته افغانستان د پاکستان، سیمې او نړۍ په ګټه دی او په دې برخه کې یې هېواد د ولسمشر کرزي په مشرۍ له افغان حکومت سره هر ډول مرستو ته تیار دی.

مارک ګروسمان د افغانستان، پاکستان او امریکا ترمنځ په درې اړخیزه غونډه

پاتې ۴ مخ

تقویت کمربند دفاعی در سرحدات، کار شبکهء حقانی را دشوار می سازد "مولن"

رادیو آزادی:

مقامات ارشد نظامی می گویند، قوای امریکایی و متحدین افغان آن ها یک کمر بند دفاعی را در امتداد سرحدات افغانستان با پاکستان تقویت می بخشند تا جلو حملات جنگجویان شبکهء حقانی را در کابل بگیرند.

روزنامه نیویارک تایمز می نویسد:

فوماندانان به بحث روی این موضوع ادامه می دهند که آیا پاکستان نمی تواند و یا هم نمی خواهد، پناهگاه های مصوون شبکهء حقانی را در خاکش از بین ببرد؟

به گفتهء مقامات امریکایی این گروه شورشی را قوای امنیتی و افسران استخباراتی پاکستانی حمایت می کنند، تا نفوذ خود را در افغانستان حفظ کنند.

آدمیرال مایک مولن لوی درستیز امریکا روز یکشنبه به دنبال دیدار از مناطق سرحدی افغانستان و پاکستان در کابل از ستراتیژی تقویت کمربند دفاعی در امتداد سرحدات افغانستان

بقیه در صفحه ۴

دمرحوم الحاج مدیر رحمت الله ژوند ته لنډه کتنه

خدای بخښلي الحاج مدیر رحمت ګل د حاجی عبدالغیاث زوی د پکتیا ولایت د احمدآباد ولسوالی په یوه دینداره کورنۍ کې له نه درې شپیته کاله وړاندې سترګې وغړولې. نوموړی یو ښه مسلمان و، د استاذی سیېځلی دنده یې پرمخ وړله چې په ۱۳۵۸ کال کې د کمونستانو له خوا

پاتې ۴ مخ

په پکتیا ولایت کې د حزب اسلامي د ولایتي شورا غونډه دایره شوه

ډاکتر فضل ربی

د تېرې اوونۍ په درېیمه نېټه د دوشنبې په ورځ د پکتیا ولایت د حزب اسلامي په دفتر کې په نوموړي ولایت کې د حزب اسلامي د رئیس د انتخاب او غوراوي لپاره د پکتیا ولایت د ولسوالیو د نمایندګانو او اراکینو په ګډون یوه درنه غونډه جوړه شوه.

غونډه د قاری صاحب عبدالحی له خوا د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شو، بیا د رئیس د انتخاب لپاره د مرکزي دفتر له خوا د لېږل شوي هیئت، د حزب اسلامي د اجرائیه شوری غړي او د غزني ولایت د خلکو استازی محترم عبدالجبار شلګری، او محترم ذاکر صاحب د حزب اسلامي د اجرائیه شوری غړي تر نظارت لاندې ټاکنې ترسره شوې چې په نتیجه کې ډاکتر فضل ربي په دوه ویشتو کې د ۱۳ رأیو په ترلاسه کولو د پکتیا ولایت د حزب اسلامي رئیس په توګه منتخب شو.

غونډه د ذاکر صاحب له لورې د نوی ټاکل شوی رئیس ته د مبارکۍ ورکولو ترڅنګ د خپلو دندو او چارو په ښه توګه پرمخ وړلو د توصیې او دعائیې الفاظو سره پای ته ورسیده.

د پنځو روپو ډکسا په څلوېښت روپۍ!

درېیم مخ

سلطانزوی: د ټاکنو د ستونزو په برخه کې بهرنۍ کړۍ مداخله کوي

کابل، رسنۍ:

په داسې حال کې چې د ولسي جرګې د تېرو انتخاباتود معترضو کاندیدانو حقوقي دعوا د کابل استیناف محکمې ته لېږل شوې دغه کاندیدان وایي، چې په دې حقوقي مساله کې له هیچاه سره هیڅ ډول سیاسي معامله نه مني.

دغو معترضو کاندیدانو د سې شنبې په ورځ په کابل کې یوه خبري کنفرانس ته څرګنده کړه، چې په افغانستان کې د ملګروملتونو اداره او ځینې بهرنۍ سفارتونه هڅه کوي، چې پر ولسمشر فشار واچوي ترڅو دا حقوقي موضوع له سیاسي لارې حل کړي.

د دې معترضو کاندیدانو استازي محمد داوود سلطانزوی په ډاګه کړه، چې ولسمشر کرزی اونور دولتي چارواکي نه شي کولای، چې د دوی حقوقي ستونزه چې همدا اوس قضایي ارګانونه پرې کار کوي د سیاسي معاملې په کولو سره هواره کړي:

"تفاهم څه معنی ورکوي، د ولسي

پاتې ۴ مخ

حوادث تاریخ اسلامي در هفته اول ماه رمضان

تألیف: عبدالغفور گردهانی

اول رمضان:

* نزول صحف ابراهیم: صحف ابراهیم در شب اول رمضان نازل شد.

* مسلمانان در اول ماه رمضان روزه گرفتند: در روز یکشنبه اول رمضان سال دوم هجری اولین رمضانی بود که مسلمانان روزه گرفتند و گفته شده روزه رمضان در روز دوشنبه اول شعبان سال ۲ هجری فرض شد.

* در روز اول رمضان سال ۲۰ هجری برابربا ۱۳ اگست ۶۴۱م در زمان خلیفه دوم حضرت عمر بن خطاب فتوحات اسلامی به دست امیر قهرمان حضرت عمرو بن عاص (رض) به مصر رسید و مصر جزو کشورهای اسلامی شد.

* محاصره دیوار بابلی ها: در اول رمضان ۲۰ هجری برابر با ۱۳ اگست ۶۴۱م. عمرو بن عاص دیوار بابلیون را بعد از آنکه در مسیر لشکر روم آنها را زمین گیر نمود محاصره نمود.

* شروع فتح اندلس: در اول رمضان ۹۱ هجری برابر با ۷۱۰م مسلمانان به رهبری طریف بن مالک در ساحل جنوبی اندلس فرود آمدند و با نیروهای جنوبی جنگ نمودند و فتح اندلس آغاز شد. موسی بن نصیر طریف بن مالک را به منظور گشودن راهی برای جنگ اندلس معین کرده بود.

بقیه در صفحه دوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

دا گونگ حالت به تر څو وي!؟

افغانان په یو عجیب حالت کې قرار لري، د خپل هېواد په حال او مستقبل نه پوهېږي په یو حیرانوونکی او گونگ سرنوشت کې اخته دي د پارلماني غړو، او له سیاسي شنونکو څخه هم لاره ورکه ده، هر یو د خپل خیال اسونه زغلوي، له اټکلي خبرو پرته بل څه نه شي ویلې ددې پرځای چې د اورېدونکو پریشاني لرې کړي او یوه روښانه لاره او نقشه مخې ته کېږدي نور هم د پریشانۍ په ډنډ کې ډوبوي.

له جمهور رئیس نه نیولې تر وزیره هېڅوک خپل ولس ته یوه ښکاره پیغام نه لري، ولس حیران دی چې آیا مشران هم زموږ په څېر له اصل واقعیت نه خبر نه دي او که څه بله خبره ده چې له ویلو نه یې ډډه کوي؟ دا چې اصل واقعیت هر څه دی وي به خو په دې خبره پوهېدل پکار دي چې ولس نور له دې گنگ حالت نه تر پوزې راغلې دی، نور ددې زغم نه لري چې د صبر درنه کاڼي په زړه وتړي او غلې تماشا وکړي څکه چې ددوی سرنوشت مجهول دی او چې د هر چا تقدیر او سرنوشت مجهول وي دهغه سکون او آرام نه وي، هغه ضرور ځان ته روښانه لاره لټوي. افغانان د تېرو یو لسو کلو راهیسې په یو مجهول او نامعلوم سرنوشت کې شپې سبا کوي نور نه شي کولې چې په یو گونگه فضأ کې خپل ژوند ته دوام ورکړي. چارواکو ته پکار دي چې نور له خپل ولس نه حقایق پټ نه کړي په دې هېواد کې چې هره لوبه روانه ده له هغې نه خپل ولس خبر کړي تر څو د خپل روښان سرنوشت د ټاکلو لپاره پخپله اقدام وکړي، له بهرنیانو سره چې هره پریکړه او تړون کېږي او یا شوې ولس دې له هغه نه خبر کړی شي.

که چېرته حالت همداسې گونگ روان وي او ولس په تیارو کې وساتل شي نو دا نه د ولس په گټه ده او نه هم د هېواد په گټه، همدا ولس به یوه ورځ ضرور د زغم او صبر قوت له لاسه ورکوي د یو ملي پاڅون په ترڅ کې به افغانستان له یو ناقابو کېدونکی حالت سره لاس او گریوان کړي، ډېرې وینې به توې شي او ډېر انسانان به خپل ژوند له لاسه ورکړي او هر څه به گډ وډ او تالا ترغه شي.

ښه به دا وي چې هېوادوالو ته هر څه ښکاره وویل شي هېڅ یو کار او هېڅ یو تړون له ولس نه پټ د پردې تر شا ترسره نه کړی شي، پخپله افغانانو ته دې د خپل سرنوشت ټاکلو حق ورکړی شي، کوم سرنوشت چې افغانان پخپله وټاکي هغه به د خاورې او ولس گټې تأمینوي او د هېواد امن او ثبات به پیاوړې کوي خو که الله مکړه حالات همداسې روان وي او له ولس نه هرڅه پټ وي، هېڅوک د خپل خاورې او د خپل سرنوشت په اړه معلومات نه وي نو د اقتدار خاوندان به ډېر ژر د ولس له شدید غبرگون سره مخامخ شي او ددې ټولو عواقب به دهغوی په غاړه وي.

حوادث تاریخ اسلامي در هفته اول ماه رمضان

(ادامهٔ از صفحه اول)

* تولد "شکیب أرسلان": در اول رمضان ۱۲۸۶ هجری برابر با ۲۵ دسمبر ۱۸۶۹ میلادی امیر شکیب ارسلان یکی از کسانی که به وحدت عربی فرا می خواند متولد شد. او اولین کسی بود که خواستار ایجاد پوهنتون عربی شد، همچنین او از بارزترین مردان اصلاح و رهبران آزاد سازی وطن در برابر استعمار بود. مقالات و نوشته ها و گفتارهای زیادی و از جمله تالیف (حلل السندسیه) و تاریخ غزوات عرب از او بر جا مانده است

* دشمنی صهیونیست و افزایش شهداء: در اول رمضان ۱۴۲۵ برابر با ۱۵ اکتوبر ۲۰۰۴ میلادی ۱۱۰ فلسطینی شهید شدند که در میانشان ۳۰ کودک بودند، در طی عملیاتی وسیع در شمال غزه که ۱۷ روز طول کشید ۴۰۰ نفر فلسطینی که نصفشان اطفال بودند مجروح گردیدند. اسرائیل آنرا ایام پشیمانی نام نهاد.

دوم رمضان

* جنگ بلاط الشهداء: در ۲ رمضان ۱۱۴ هجری برابر با ۲۶ اکتوبر ۷۳۳ م آتش جنگ (بلاط الشهداء) میان مسلمانان به رهبری عبدالرحمان غافقی و فرانسه به رهبری شارل مارتل شعله ور شد. این جنگ در منطقه ای واقع در بین ۲ شهر تور و بواتیه فرانسه رخ داد و آتش جنگ بمدت ۱۰ روز تا اواخر ماه رمضان بر پا بود این جنگ با پیروزی هیچ کدام از دو گروه به پایان نرسید اما مسلمانان شبانه میدان جنگ را ترک کردند.

* کنفرانس "تربیت وسیله ای برای آماده کردن دعوتگران": در ۲ رمضان ۱۴۰۲ هجری برابر با ۲۴ جون ۱۹۸۱ میلادی اتحاد جمعیت های محصلین مسلمان در بریتانیا کنفرانس نوزدهم خود را با شعار (تربیت وسیله ای برای آمادگی دعوتگران) برگزار کرد.

* فتح مغرب میانی: در ۲ رمضان سال ۸۲ هجری لشکریان مسلمان در شمال افریقا در مواجه با رومیان از یکسو و بربرها از جهت دیگر در گیر شدند. رهبر بربرها موسوم به کاهنه توانست که نیروها را جمع نماید و با مسلملنان سالیانی طولانی جنگ نمود و فرمانده مسلمانان زهیر بن قیس نتوانست که بر او پیروز شود تا اینکه حسان بن نعمان مصمم به فتح همه مراکش در برخورد با لشکریان کاهنه در رمضان سال ۸۲ هجری بر او غالب شد.

* سقوط دولت امویان و قیام عباسیان: در ۲ رمضان سال ۱۳۲ هجری برابر با ۱۳ اپریل ۷۵۰ میلادی عبدالله بن علی بر دمشق غالب شد و بدینوسیله دولت اموی سقوط نمود و دولت عباسیان بر پا گشت.

* تولد مورخ وفیلسوف مسلمان ابن خلدون: او در ۲ رمضان سال ۷۳۲ هجری برابر با ۲۷ می ۱۳۳۲ میلادی تولد شد.

* استیلا بر کریت: در این روز ۱۲۳۹ هجری برابر با سال ۱۸۲۴ میلادی مصری ها بر جزیره کریت غالب شدند.

سوم رمضان

* وفات فاطمه زهرا (رض): در سوم رمضان برابر با ۲۱ نومبر ۶۳۲ م میلادی حضرت فاطمه زهرا دختر رسول (ص) و همسر علی بن ابی طالب رض و مادر حسن و حسین (رض) دار فانی را وداع گفت.

* وفات مروان بن حکم: در ۳ رمضان ۶۵ هجری برابر با ۱۴ نومبر ۶۸۳ م میلادی مروان حکم فوت نمود او موسس دولت اموی دوم است که در زمان خود تعدادی از مظاهر تمدنی از جمله نظام اوزان و مقادیر را قرار داد و در سال ۶۵ هجری در دمشق وفات نمود.

* شهادت قوماندان چاد: در ۳ رمضان ۱۳۰۷ برابر با ۲۲ اپریل ۱۸۹۰ م میلادی قوماندان مسلمین امیر راج بن زبیر که اولین کشور اسلامی را در منطقه چاد بر پا نمود به شهادت رسید. پایتخت آن شهر دیکوا بود.

* توقف مجله النذیر: در سه رمضان ۱۳۵۸ هجری برابر با ۱۶ اکتوبر ۱۹۳۹ جلوی انتشار مجله النذیر گرفته شد. النذیر یکی از مجلاتی بود که جماعت اخوان المسلمین آن را منتشر می کرد.

* حادثه تحکیم: در سوم رمضان ۳۷ هـ پیمان حکمیت میان علی بن ابی طالب و معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنهما منعقد شد. این اتفاق پس از جنگ جمل که از یکسو نیروهای تحت فرماندهی حضرت علی و بین بنی أمیه و عائشه و طلحه و زبیر از سوی دیگر در ماه شعبان سال ۳۶ هـ و بعد از جنگ صفین در محرم سال ۳۷ هـ بین حضرت علی و معاویه رخ داد. حکمیت با ظهور خوارج و استیلای معاویه بر مصر همزمان بود. رضی الله عن الصحابهٔ أجمعین.

* دخول جلال الدوله سلطان بنی بویه بغداد: در سوم ماه رمضان سال ۴۱۸ هـ، أوسط هجری جلال الدوله وارد بغداد شد. خلیفه قادر در استقبال او از شهر خارج شده بود و بدین ترتیب جلال الدوله در بغداد مستقر شد و خودش خطبه خواند.

چهارم رمضان

* فتح شهر بلگراد: در ۴ رمضان ۹۲۷ هـ برابر با ۸ اگست سلطان عثمانی موفق به فتح شهر بلگراد گردید که در میانه قرار داشت و دارای قلعه محکمی بود و دروازه اروپا به شمار می رفت. این شهر سه بار در سالهای ۱۴۴۱ و ۱۴۵۶ و ۱۴۹۲ توسط عثمانی ها محاصره شده بود..

* إعلان جنگ بر علیه آلمان: در ۴ رمضان ۱۰۷۳ برابر با ۱۲ اپریل ۱۶۶۳ م دولت عثمانی بر علیه دولت آلمان اعلان جنگ نمود. این در حالی بود که ۵۶ سال از عهدنامه سیتفاتوروک که باعث توقف جنگ قبلی میان ۲ کشور بود گذشته بود. این جنگ سبب بستن قلعه محکمی در حدود مرز عثمانی شد.



پنجم رمضان

* استرداد شهر انطاکیه: در ۵ رمضان ۶۶۶ هـ برابر با ۱۹ می ۱۲۶۸ م مسلمانان موفق شدند به رهبری بیبرس شهر انطاکیه را از دست صلیبی ها باز ستانند. انطاکیه ۱۷۰ سال در دست روم ها بود باز پس گیری آن کار دشواری بود.

* جنایت صهیونیست ها در شهر اللد: در ۵ رمضان ۱۳۶۷ هـ برابر با ۱۱ جولای ۱۹۴۸ م نیروهای صهیونیستی به رهبری "موشه دایان" مرتکب جنایت سنگینی در شهر اللد فلسطین شدند، آنها هنگام عصر وارد شهر شدند و مردم از ترس به مسجد هجوم بردند. در این حمله ۴۲۶ فلسطینی به شهادت رسیدند آنها به این اکتفا ننموده به دستگیری جوانان در ورزشگاه شهر پرداختند و به اهالی نیم ساعت فرصت دادند که بدون هیچ گونه آب و مواد غذایی شهر را ترک نمایند که این خود عامل فوت بسیاری از سالخوردگان، زنان و کودکان گردید.

* تولد عبد الرحمن الداخل: در ۵ رمضان ۱۱۳ هـ برابربا ۹ نومبر ۷۳۱ م عبد الرحمن الداخل (صقر قریش) دردمشق متولد شد. او موسس دولت اموی در اندلس است.

ششم رمضان

* نزول تورات: تورات بر موسی علیه السلام نازل شد.

* فتح عموریه: در ۶ رمضان ۲۲۳ هـ برابربا ۳۱ جولای ۸۳۸ م خلیفه عباسی معتصم ندای طلب کمک در فتح عموریه را لبیک گفت و آن را فتح نمود.

* اولین پیروزی مسلمانان بر صلیبی ها: در ششم رمضان سال ۵۳۲ هـ برابر با ۱۷ می ۱۱۳۸ م، به رهبری عمادالدین زنگی اولین پیروزی بر علیه صلیبی ها در شهر حلبدر شمال شام رخ داد.

* فتح سرزمین سند: در ۶ رمضان ۶۳ هـ برابر با ۱۴ می ۶۸۲ م محمد بن قاسم بر سپاهیان هند در رود سند پیروز گردید و فتح سرزمین سند پایان یافت. این کار در اواخر زمان ولید بن عبد الملک رخ داد.

هفتم رمضان:

* افتتاح دانشگاه الأزهر به عنوان عبادت و علم اندوزی: در ۷ رمضان ۳۶۱ هـ برابر با ۹۷۱ م اولین نماز جماعت در الأزهر اقامه شد و بدین ترتیب الأزهر هم مسجد جامع و هم پوهنتون شد.

* قاهره پایتخت فاطمیان شد: در این روز به سال ۶۳۲ هـ قاهره توسط خلیفه فاطمی المعز به عنوان پایتخت تعین شد در حالی که پایتخت قبلی المهدیه بود.

اسلامي امت د ملټي نيشنل شرکتونو په ولکه کې!

ډېرې خبرې مې په زړه وې

شمس الدين همت

ټول ملټي نيشنل شرکت هغه شرکت ته وائي چه دهغې مرکزي اواساسي خونه په يوهيواد کې وي او لې تر لږه په درې نوروهيوادونوکي هم فعاليت کوي. نوموړو شرکتونو ته نړيوال شرکتونه هم ويل کيږي.

داوخت په نړۍ کی نږدی (۱۲۰۰۰) ملټي نيشنل شرکتونه فعاليت کوي چه په دی شرکتونو کی ۳۵ ميليونه وګړي په کار بوخت دي. ددی شرکتونو د مجموعي تعداد څخه صرف (۵۰۰) لوي شرکتونه ديادونی وړدي او ددی (۵۰۰) لويو شرکتونودجملی نه (۴۱۴) شرکتونه د دری لويو هيوادونودي چه (۱۶۱) يی د امريکا، (۱۲۸) يی د جاپان، او (۱۲۵) د اروپا دي. لنډه داچه کومی دنيا ته چي مونږ کله د امريکا، کله داروپا او کله هم دجاپان دنيا وايودا نو اوس دملټي نيشنل شرکتونو دنيا ده.

ديادونی وړده چه ذکرشوي شرکونه اوس دومره سترطاقت دئ چه ددنيا ټول سترطاقتونه ددی شرکتونو په پرتله دتشو خاورو پرته بل څه ندي، او دا څکه چی دنړۍ د ډيرو هيوادونوڅخه که کوچني دي او که لوي، ددي شرکتونو بوديجه په څو چنده زياته ده.

دا به د عقل خلاف نه وي که ووايو چي په حقيقت کي همدا نړيوال شرکتونه دي چه په ټوله دنيا پاچاهي کوي او په پاي کی دخپلی خوښی افرادو ته واک او اختيار ورسپاري. نوي اقتصادي څيړنی ښئ چی دا وخت په نړۍ کی (۵۰) داسی شرکتونه دي چه ورځ تر ورځه پياوړي کيږي او ډير تيز پرمختګ کوي، ددی جملی نه (۴۳) دامريکا،(شرکتونه د امريکا (۳) دجاپان، (۱) د هالينډ، (۱) د سويزرليند، (۱) دبرطانيي او (۱) د سنګاپوردي. اقتصادي رسنۍ وائي چه ذکر شوي)۵۰(شرکتونه به په راتلونکي کی)۵۰۰(نورو لويو شرکتونو ته ماتي ورکړي او له منځه به يی يوسي. ذکر شوي)۵۰(نړيوال شرکتونه دا وخت د نړۍ د ۷۰٪ نه تر ۷۵٪ داقتصادي شتمنيو او اثاثو لرونکي دي.

ملټي نيشنل شرکتونه او اسلامي هيوادونه:

الجيريا، اندونيشيا، ايران، عراق، کويت، ليبيا، نايجيريا، قطر، سعودي عربستان، متحده امارات او وينزويلا دنړۍ تر ټولو ډير د خامو تيلو توليدوونکي هيوادونه شميرل کيږي. په ذکر شوو (۱۱) هيوادونو کنبي د وينزويلا نه پرته نور ټول هيوادونه اسلامي هيوادونه دي. راځئ چه اوس د تيلو اوطبيعي ګيس د توليدضرفيت په نظر کي نيولو سره د بعضي اسلامي هيوادونو په اقتصادي منا بعو يوه ځلانده رڼا واچوو:

سعودي عربستان (د۲۰۰۸ ميلادي کال داحصائی مطابق) د ۲ لکه ۶۲ زره ۷ سوه او ۴۸ بليونه بيرلوخاموتيلو او د (۷.۴۶۱) ترليونه متره مکعب د طبيعي ګيس لرونکی هيواد دی. سعودي عربستان هره ورځ (۸) مليونه بيرله تيل او (۸) مليونه مکعب ګيس توليدوي اوهر کال د (۴۴۹۳۴) مليونه ډالرو تيل پلوري چه په نتيجه کی همدا مبلغ ددی هيواد د عايداتو لويه برخه تشکيلوي. سعودي عربستان د نړۍ ۲۰٪ خام تيل توليدوي.

د سعودي عربستان نه پرته د نړۍ تر ټولو لويه دتيلو منبع په عراق کی ده "عراق (۱۱۲۵۰۰) مليونه بيرله تيل او ۳۱۸۸ " بليونه مکعب ګيس لري.

ايران (۹۳۱۰۰) بيرله تيل مليونه بيرله تيل او (۱۳۱۵) بليونه متره مکعب طبيعی ګيس لري. الجيريا (۱۱۳۱۴) مليونه او (۴۵۲۹) بليونه متره مکعب طبيعي ګيس لري. نا يجيريا د (۲۲۵۰۰) مليونه بيرله تيلو او (۴۴۸۰) بليونه متره مکعب طبيعی ګيس لری. وينزويلا غير اسلامي هيواد دي چه (۷۶۸۸۴) مليونه بيرله تيل او (۴۱۵۲) بليونه متره مکعب ګيس لري چه د توليد ضرفيت يی د اسلا مي هيوادونو په پرتله ډير کم دی.

د ۲۰ څخه زيات امريکايي نړيوال شرکتونه داسی دی چه د اسلامی هيوادونو څخه تيل وړي او بيا يي پلوري او د همدي لاری نه ددی نړيوال شرکتونو کلنۍ بوديجه (۲۱۰۲۹۲) مليونه ډالرو ته رسيږي چه د سعودي عربستان د ۵ کلونو د تيلو د خرڅلاو سره برابريږي. عجيبه خو داده چي، د تيلو او ګيس منابعو په نظر کی نيولو سره نړيوال شرکتونه د تش تجارت نه پرته هيڅ نه کوي، او کوم چه د تيلو او ګيس اصلي وارثان او لرونکي دي د هغوي ګټه د نړيوالو شرکتونو په پرتله د هيڅ سره برا بريږي. او ددي يواځينی سبب دادی چه اسلامي هيوادونه نړيوال شرکتونه نلري تر څو وکولای شي همدا تيل او ګيس د خپلو شرکتونو له لاري مستقيما پخپله عرضه کړي.

دنړۍ په کچه دري لوي نړيوال شرکتونه:

داوخت په نړۍ کی دری داسي نړيوال شرکتونه فعاليت کوي چه چټک پرمختګ او پياوړتيا يی د اقتصادي اوتجارتي خبرونو د سرټکي تشکيلوي. ذکرشوي نړيوال شرکتونه دا وخت ډير پياوړي دي او هره ورځ يی د نوي پرمختګ خبرونه تر لاسه کيږي. راځئ چه هريو ته يی يوه لنډه کتنه وکړو:

۱- دکوکاکولا نړيوال شرکت:

دنړۍ په کچه په دری نړيوالو شرکتونوکنبی دکوکاکولا نړيوال شرکت په لومړۍ درجه کی قرارلري. دکوکاکولا شرکت په ۱۸۸۶ ميلادي کال کی په فعا ليت شروع وکړه. ذکرشوی نړيوال شرکت په ازاد مارکټ کی مختلف مشروبات پلوري چه په ۱۹۶۰ ميلادي کال کی د فانتا او سپرائټ مشروبات هم ددی شرکت په ولکه کي راغلل. د کوکاکولا نړيوال شرکت په ۲۰۰ هيوادونو کنبي خپل توليدات په ښه پريمانه توګه پلوري، مخکي ګومان کيده چه کيداي شی د پيسي مشروب به د کوکاکولا مشروب ته ماتي ورکړي، ليکن ددی برعکس دپيسي مشروب توليدوونکی شرکت (پيپسيکو) دکوکاکولا شرکت همکارثابت شو حتی ترددی چه په بعضي هيوادونو کنبی دواړه مشروبات په يوه فابريکه کي جوړيږي، خلاصه داچی د کوکا کولا شرکت ته ازاد بازار نور هم ازادشو او له همدی کبله يی ګټه دپخوا په نسبت څو چنده شوه. په ۲۰۰۶ ميلادي کال کی د نوموړي شرکت بيه ۴۶ مليارده ډالره اټکل شوي وه..

۲- د مکډونلډ نړيوال شرکت:

په دوهمه درجه کی د مکډونلډ نړيوال شرکت قرار لري چي په ۱۲۰ هيوادونو کنبي تجارت کوي. ذکرشوي شرکت په نړۍ کنبی ۲۷۰۰ ميلمستونونه قائم کړيدي چه په ذکرشوو ميلمستونونو کی معياري خواړه تهيه کيږي چی همدا ددی شرکت اساسي تجارت دي. دمکډونلډ نړيوال شرکت په ميلمستونونوکي هره ورځ نږدی ۴ ميليونه خلک معياري خواړه خوري. نوموړي شرکت په ۱۹۶۱ ميلادي کال کی د همبرګر په نامه يو پوهنتون هم تآسيس کړيدي چه دشيکاګو ايالت کی موقيعيت لري اود همدي پوهنتون نه د ۲۰۱۰ کال تر پايه ۸۰۰۰۰ مديران او داسی نور لوړرتبه مامورين او کارپوهان فارغ شويدي. په تعليمي کچه د ذکرشوي نړيوال شرکت پوهنتون په مختلفو هيوادونو کی د ګڼ شمير تعليمی نصابو په تدريس کی فعاله ونډه لري.

۳-دوالټ ډزني نړيوال شرکت: دملټي نيشنل شرکتونودجملی نه د والټ ډزنی شرکت په دريمه درجه کی قرار لري چه د اي بي سي په نامه تلويزوني اوراديويي نشراتي شبکي لري. ذکرشوي دوه نشراتي شبکي دفلمونوپه شمول ګڼ شمير کتابونه او مجلي هم نشروي.

پورته ذکرشوي ۳ نړيوال شرکتونه هريو کوکاکولا، مکډونلډ او والټ ډزني دخپل منځي اتحاد اومرستي خالي ندي، دمثال په توګه، داسي ندي چی دمکډونلډ شرکت په ميلمستون کنبی دی دکوکاکولا شرکت په مشروب پابندي وي او يا دی دسره دموندلوړ نه وي، همدا رنګه يا دي د والټ ډزني شرکت په نشراتي شبکو کي دکوکاکولا شرکت دمشروباتو تجارتي اعلانونه بند وي. لنډه د ا چه ذکرشوي شرکتونه يودبل مرستندويه اويوبل ته ښاغلي دي. د ذکرشوو ۳ لويونړيوال شرکتونو مجموعي سرمايه او شتمنۍ د ۲۰۰۸ د احصائی له مخي ۲۶۵ مليارده ډالره اټکل شويده.

دکوکاکولا نړيوال شرکت د يهودانو ملاتړ او تمويل کوي:

دکوکاکولا نړيوال شرکت د۱۹۶۶ ميلادي کال را پديخوا داسرايلو ترټولو لويه مالي منبع ثابته شوي، په همدي اساس په ۱۹۹۷ ميلادي کال کی اسرائلي دولت د کوکاکولا شرکت ددي مرستو په رسمي او علني توګه ستاينه وکړه او پدي يی اعتراف وکړ چی دکوکاکولا شرکت هروخت داسرايلو سره دزړه له کومي مالي مرستي اوکومکونه کړي. اسرايلي دولت دداسي کومکونو په بدل کی دکوکاکولا نړيوال شرکت ته د اعزاز په توګه يو ستر انعام ورکړ. همدارنګه د۲۰۰۲ ميلادي کال د فروري مياشت په شپاړسم تاريخ دکوکاکولا نړيوال شرکت د ميسوتا پوهنتون سره په شريکه د اسرايلو سره د مرستي په خاطر يه دعوتي غونډه جوړه کړه چی دي غونډي ته لينډا ګريډ ستهين خطاب وکړ، ديادوني وړده چی دي غونډي ته داسرايلو او ددوي د خواخوږو صهيونستي تنظيمونو کومک او همکاري شامله وه.

د پنځو روپو ډکسا په ځلويښت روپۍ!

محمد خليل

د نوري نړی ډاکتران لګيا دي د انسانيت خو لا څه چي د څارويو او حيواناتو خدمت هم په پوره اخلاص او صداقت سره کوي، خو په افغانستان کي ډېری ډاکتران او ډاکتراني لګيا دي پر انسانانو تجارت کوي، که ناروغان هم نه وي نو ناروغي ورته پيدا کوي.

ناروغ ته په لابراتوارونو کې يو ډول نتيجه نه ورکوي، په يوه لابراتوار کې يو شی ورته ليکي او په بل کې بل څه، په يو کې ورته ليکي چې ګرده کې دې چرک دی او په بل کې ورته وايي چې روغ رمټ يې همدغه شان په التراساونډ (تلويزيوني) معاينو کې هم ضد او نقيض راپورونه ورکول کېږي.

هر ډاکتر پخپل څنګ کې لابراتوار او دواخانه لري، درې څلور ټېستونه ورته ليکي، تلويزوني معاينې لپاره يې لېږي او داسې داسې ناروغيانې پکې راوباسي چې هغه ناروغيانی په ناروغ کې له سره نه وي.

ډېر خلي داسې شوي دي چې يو ناروغ ته دلته د ګردې د کانې د دوا نسخې ورکړيدي خو چې پېښور ته تلې هلته بيا ورته ويل شوي چې ستا په ګرده کې نه کانی شته او نه هم چرک.

څو کاله وړاندې په کابل کې يو ډاکتر د لابراتواري د ټېستونو له کتلو وروسته ناروغ ته د بروسلز ناروغۍ دوايانې ورکړې او ورته يې وويل چې ته بروسلز يې خو چې هغه پېښور ته لاړ نو هلته له معاينې وروسته معلوم شو چې هغه



اصلاً بروسلز نه دی، بلکې يوه بله ناروغی لري چې د يوې اونی له علاج وروسته بالکل روغ رمټ شو.

تېره اونی مې په لغمان ولايت کې يوه بله تماشا هم وليده چې يوې تلويزوني معاينه کوونکي ډاکترۍ هرې ناروغی ته يو ډول دوا ورکوله، د هر چا په لاس کې به يو قسم دوا وه، بل ظلم يې دا کاو چې هرې يوې ناروغې ته د تلويزوني معاينې وروسته لګول کېده، په غور مې چې ورته وکتل نو هغه د ډکسا ستنه وه، کله چې زما لور ته هم ستنه لګوله نو ما ورته وويل ستنه ماته راکړه چې زه يې پخپله په کور کې ورته ولګوم، هغې وويل چې زه يې همدلته لګوم په کور کې د لګولو اجازه نشته. ما ورته وويل: دا خو د ډکسا ستنه ده چې حساسيت لپاره لګول کېږي آيا دا ټولې ښځې د حساسيت په ناروغی اخته دي؟ هغې راته وويل د بل چا په کارو کې کار مه لره که دومره پوهېدې نو ډاکتر ته به دې نه وه راوستې.

ما ورته وويل: تاسې نو ددغې ستنې په بدل کې څلويښت روپۍ ولې اخلئ ددې خو له سېرنج سره يو ځای ټول قيمت ايله پنځه افغانۍ جوړېږي آيا دا له ناروغانو سره ظلم او زياتې نه دی؟ هغې راته بدې بدې وکتلې او وېې ويل: د خلکو په روزي کې لتې مه وهه، زموږ همدا روزي دی چې داسې ونکړو نو څه وکړو؟ ما ورته وويل: ته خو حرام روزي ګڼې آيا دداسې روزي خوړل حلال دي؟ !

له بل لورې مې دهغو ساده ښځو پر حالت افسوس کاو چې ويل يې ډېره ښه ډاکتره ده، هر چا ته د قوت ستنه لګوي، په داسې حال کې چې هغه د حساسيت لپاره د دريو روپو ډکسا ستنه وه.

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

نړیوالو ورځپاڼو یو ځل بیا د کابل بانک د قضیې په اړه او د افغان ځواکونو د کیفیت، کمیت او روزنې په اړه مطالب خپاره کړي دي.

ډیلي ټلیګراف:

ډیلي ټلیګراف ورځپاڼه لیکي، چې په روانه اونۍ کې به د هغو پینځلسو تنو دوسیې محکمې ته واستول شي، چې د اداري فساد، له خپل صلاحیت څخه د ناوړه استفادې، د قرضونو د جعلي اسنادو د جوړولو او یا هم له کابل بانک څخه په ناقانونه ډول د پورونو د اخیستلو تور پرې لګیدلی دی.

د ورځپاڼې په لیکنه، نړیوالو مرسته کوونکو د کابل پر حکومت فشار راوستی، څو د دې هېواد د مالي سیستم یوه عمومي ارزیابي ورکړي او د کابل بانک د پرځولو په دسیسه کې لاس لرونکي تعقیب کړي، څو مرسته کوونکي د جمهور رییس حامد کرزي له حکومت سره خپلې مرستې بیا پیل کړي.

البته ډیلي ټیلګراف لیکي، ښایي د حکومت دا اقدام به د غربیانو هغه اندیښنې لرې نه کړي، چې حکومت یې مسولیت د کابل بانک له سترو مشترکینو او مشتریانو چې سیاسي پیوندونه لري اړوي او پر مرکزي بانک یې وراچوي چې تقریباً نهه میاشتې یې د مسالې په اړه څېړنه کړې.

د لویې څارنوالۍ مرستیال رحمت الله نظري ویلي، چې په اسنادو کې د کابل بانک د پخوانی ریس شیرخان فرنود، د بانک اجراییوي مشر خلیل الله فیروزي په شمول د کابل بانک او د مرکزي بانک د ګڼ شمیر پخوانیو او برحاله مامورینو نومونه شامل دي.

ښاغلي نظري ډیلي ټلیګراف ته ویلي، چې دا کومه وړه خبره نه ده بلکې ډیره ستره قضیه ده. په مساله کې له دېرشو تر څلوېښتو پورې کسانو لاس درلود، چې تراوسه یې ۱۵ تنه له افغانستان څخه وتلي دي.

د کابل بانک په قضیه کې له دېرشو تر څلوېښتو کسان لاس لري

البته تر اوسه د مرکزي بانک لږترلږه ۳۸ تنه کارکونکي له دې مسالې سره په ارتباط نیول شوي دي.

حریت:

د ترکیې حریت ورځپاڼې په دې هیواد کې د افغان پوځیانو د روزنې او د افغان امنیتي ځواکونو لپاره د امکاناتو د برابرولو پر هځو یوه مقاله خپره کړې ده.

حریت په دې اړه د ناټو د یوه قوماندان له قوله لیکي، چې د افغانستان د اردو لږترلږه ۳۰۰ منصبداران به تر راتلونکې میاشتې د ترکیې په ازمیر ښار کې د روزنې نهه میاشتنۍ دوره بشپړه کړي.

په افغانستان کې د ناټو د روزونکي ماموریت مشر امریکایي جنرال ویلیام کالدویل د چهارشنبې په ورځ حریت ته وویل، چې په دي منصبدارانو کې چې په ترکیه کې روزل کیږي، څلور ښځې هم شاملې وې، چې د جنرال کالدویل په وینا دا څلورو واړو ته د کوپټرو د پیلوټانو په توګه روزنه ورکول کیږي.

دغه امریکایي جنرال د ترکیې حریت ورځپاڼې ته ویلي:

"افغان رهبران تر دې مخکې په دې اړه یو څه زړه نا زړه و خو اوس اجازه ورکوي."

د افغانستان له بیا رغونې سره د مرستې لپاره د ترکیې او افغانستان تر منځ د ګڼ تفاهملیک پر اساس ترکیه د دې هیواد د پولیسو د روزنې په برخه کې هم ونډه لري.

دا محصلین په ترکیه کې د سیواس په نوم د پولیسو لپاره د مسلکي او لوړو زده کړو په انستیټیوټ کې روزل کیږي. د حریت په حواله، تراوسه لږترلږه ۴۹۲ افغان پولیس د روزنې لپاره د ترکیې د اناطولیه ښار ته رسیدلي دي او په شپږ میاشتنیو روزنیزو پروګرامونو کې به برخه واخلي.

له دې انستیټیوټ څخه فارغین به په افغانستان کې د لوړ رتبه پولیسو افسرانو په لیکو کې وګومارل شي.

د ناټو د قواوو امریکایي جنرال کالدویل دې ترکي ورځپاڼې ته ویلي، چې ناټو به د سرک په غاړه له اینبودل شویو ماینونو د مصوونیت لپاره د افغانستان پولیسو ته زیات زغره وال موټر ورکړي.

د ناټو ټرون همدا راز غواړي، چې په افغانستان کې داسې ظرفیتونه رامنځ ته شي، چې د خپل اردو ضرورتونه خپله پوره کړي.

د پښتونخوا د ګوندونو غړیو له کرزي سره د پښتنو د ناورین پر پای ته رسیدو خبرې وکړې

تاند:

د عوامي نشنل ګوند او پښتونخوا ملي ګوند غړیو د یکشنبې په ورځ د افغانستان د ولسمشر په ماڼۍ کې له ولسمشر حامد کرزي سره وکتل.

د پښتنو د دغو لویو ګوندونو غړیو له ولسمشر کرزي سره د هغه د ورور احمدولي کرزي پر وژل کېدو غمرازي وکړه.

احمدولي کرزی د جولای په دولسمه د خپل یوه نژدې کس سردار محمد له لوري ووژل شو.

د افغانستان د ولسمشری په دفتر کې یوې سرچینې تاند ته وویل د سولې لپاره هلې ځلې او د پولو په دواړو خواوو کې د قومي مشرانو د وژنو د مخنیوي لارې چارې د دوی د خبرو اصلي موضوع جوړوله.

د پښتونخواملي ګوند او عوامي نشنل ګوند غړیو په پښتني سیمو کې د حالاتو پر خرابوالي اندېښنه ښکاره کړه.

دوی په داسې حال کې اندېښنه ښکاروي چې د ډېرو کارپوهانو په وینا له تېرو لسو کلونو راهیسې د ډیورنډ د کرښې په دواړو خواوو کې د پاکستان د آی ایس آی په منظمه لارښوونه طالبان او همدارنګ نړیوال ایتلاف د پښتنو وژنو ته دوام ورکوي.

تراوسه پورې په زرګونو پښتانه قومي مشران وژل شوي، په زرګونو پښتنې کورنۍ د کور او پر ښودو ته مجبوره شوي او په لکونو پښتانه ماشومان او ماشومانو له درس، ښوونځي، روغتیایي امکاناتو او د پرمختګ له کاروانه راګرځول شوي دي.

د افغانستان ولسمشر حامد کرزي د کوزې پښتونخوا د ګوندونو غړیو ته وویل: په افغانستان کې له دېرشو کلونو راهیسې جګړه روانه ده نو باید په ګډه د دې جګړې د پای ته رسولو لپاره هلې ځلې وشي.

دمرحوم الحاج مدیر رحمت الله ...

ونیول شو او په زندان کې یې واچولو، د بنده له خلاصېدو وروسته یې پاکستان ته هجرت وکړو او له هغه ځایه یې د جهاد مقدسه لاره ونیوله، او د حزب اسلامي له مجاهدینو سره په صف کې ودرېده د روسي یرغلګرو او کمونستي ځواکونو پر خلاف یې وسله وال جهاد پیل کړ، نوموړی په جهاد کې د ښه کارکردګی او صداقت له امله د شهید مرزا رحیم د جبهې مسؤول وټاکل شو، چې وروسته بیا د شهید عمر خان د جبهې د مرستیال دنده یې هم په غاړه لرله، نوموړی د پکتیا، لوګر او کابل په ولایتونو کې د روسانو پر وړاندې د جهاد سنګر تود ساتلې و، مرحوم یو راستکار او امانت کار سړی هم و، او د قومي شخړو او لانجو په حل کې یې رغنده رول لره، نوموړی بالاخره په ۱۳۹۰ کال د سرطان د میاشتې په درې ویشتمه د وریښې ناروغی له امله له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې، روح دې ښاد او جنت دې ځای وي.

امریکا وسایل نظامی نیروهای ...

انترفکس گفت: نیروهای ایتلاف از قزاقستان خواسته اند که با خروج نیروهای خارجی از افغانستان، راه های زمینی را برای انتقال وسایل این نیروها از افغانستان تهیه کند.

گراسمن همچنان گفته است که از ایالات متحده می خواهد، وسایل اش را از افغانستان از راه زمینی بکشد و در این بخش قزاقستان را در میان بگذارد.

قبل از این جیمز اپاتوری نماینده ناتو گفته بود که ترانزیت از راه روسیه نیاز به توافق کشورهای چون ازبکستان و قزاقستان دارد.

اپاتورای همچنان گفت: نیروهای ناتو وسایل غیر نظامی شان را از راه زمینی انتقال خواهند داد، وسایل چون عراده جات نظامی و ذره پوش ها.

گراسمن همچنان توافق روی استفاده از راه هوایی قزاقستان را برای خروج پرسونل نظامی امریکا از افغانستان از اهمیت خوب برخوردار خواند.

گراسمن گفت: این توافق نتیجه مثمر داشته و امریکا از همکاری با قزاقستان خورسند است.

با ثباته افغانستان د پاکستان ...

کې د ګډون په موخه پرون ناوخته اسلام اباد ته رارسېدلی دی.

ټاکل شوې، چې دغه غونډه نن پیل شي او د افغانستان له لوري به په کې د بهرنیو چارو وزارت مرستیال جاوېد لودین ګډون وکړي.

تقویت کمربند دفاعی در ...

ستایش کرد که کار فعالان شبکهء حقانی را برای انتقال جنگجویان به هدف انجام حملات، دشوار می سازد.

مولن در تلاش احیای روابط میان امریکا و پاکستان بوده است که به دنبال عملیات امریکا علیهء بن لادن در ایت آباد آسیب دیده است.

اما او نارضایتی امریکا را از سرعت عمل قوای پاکستان در پاکسازی مناطق سرحدی از حضور افراد مسلح، تکرار کرد.

وی گفت، باید به این مساله پرداخته شود و به گفته وی رهبری پاکستان این را درک می کند.

در جریان دیدار سه روزه اش از افغانستان مایک مولن همچنین با قوماندانان و سربازان در جنوب و شرق آن کشور دیدن کرد.

باوجود افزایش حملات انتحاری اخیر در این مناطق، مولن اطمینان داد که متحدین و قوای امنیتی محلی به عقب زدن شورشیان ادامه خواهند داد.

مایک مولن گفت، طالبان طی ماه های اخیر تلفات سنگین رامتحمل شده اند و توان اجرای عملیات نظامی را برای پس گیرفتن پناه گاه های مصوون و یا هم گسترش کنترول سیاسی شان ندارند.

به گفتهء او بنا بر همین نا امیدی و مایوسی طالبان به حملات انفرادی و تروریستی رو آورده اند.

سلطانزوی: د ټاکنو د ستونزو ...

جرګې رییس د دغو دوسیو تفصیل نه څه خبر دی، چې ارګ ته ځي او ارګ له دغو دوسیو نه څه خبر دی، چې سره کښېني او تفاهم کوي.

سیاسي تفاهم لپاره هیڅ ځای نه شته، دلته محکمه او شرعیت باید وروستی حکم وکړي او که د پردې تر شاه نور موضوعات او سازشونه وي، د افغانستان خلک هیله لري، چې شرعیت او قضا د افغانستان مشکلات حل کړي، نه د دروازو ترشا."

دا څرګندونې وروسته ترهغې کیږي، چې د ولسي جرګې شپاړس کسیزه پلاوي تیره اونۍ له ولسمشر کرزي سره ولیدل او جمهور رییس هغوی ته ډاډ ورکړ، چې ډېرژر به دا ستونزه حل شي.

وروسته ترهغې چې د انتخاباتي شکایتونو اختصاصي محکمې خپله پریکړه اعلان کړه او د ولسي جرګې دوه شپیته تنه اوسني وکیلان یې د وکالت له حقه بې برخې کړل دغو وکیلانو په کابل کې بیلابیلو سفارتونو او حتی د ملګروملتونو اداري ته مراجعه وکړه، ترڅوله دوی سره په دې مساله کې مرسته وکړي.

د افغانستان لویې څارنوالی هم څو ورځې وړاندې اعلان وکړ، چې بهرني سفارتونه او ډپلوماتان باید د ولسي جرګې له وکیلانو سره په دې اړه خپلې لیدنې بندې کړي او د افغانستان په قضایي اوقانوني مسایلو کې مداخله ونه کړي.

پولند در تقویت و تجهیز نیروهای افغان همکاری می کند

کابل، رسانه ها:

وزیر خارجهء پولند از همکاری کشورش در بخش تقویت و تجهیز نیروهای افغان خبر داده است.

ریاست جمهوری افغانستان با پخش خبرنامه یی گفته است، راد سلاو سیکورسکی دیروز در ارگ ریاست جمهوری افغانستان با رییس جمهور کرزی دیدار کرد و هم چنان گفت که کشورش تلاش هایی را به هدف آموزش نیروهای افغان به خرچ می دهد.

به اساس معلومات آیساف، پولند نزدیک به ۲۶۰۰ سرباز در افغانستان دارد.

که څه هم ونه توانیدو چې د معترضو کاندیدانو د دې تازه څرګندونو په اړه د جمهوري ریاست د چارواکو نظر واخلو خو د ولسي جرګې لومړي منشي عبدالقادر قلاتوال ازادي راډیو ته وویل، چې ولسمشر کرزي له دوی سره د دې ستونزې د ژر هوارولو ژمنه کړې او هیله یې وښوده، چې جمهور رییس خپله ژمنه ژرعملي کړي.

په عین حال کې جمهوري ریاست د ولسمشر کرزي او د ولسي جرګې د شپاړس کسیزه پلاوي ترلیده کاته وروسته په یوه خپره شوې اعلامیه کې ویلي وو، چې ښې بهرنۍ هیوادونه او کړی د دې جرګې وکیلان په افغانستان کې بحران زیږولو ته هڅوي.

د کابل استیناف محکمې چې د ولسمشر له حکم سره سم د انتخاباتي شکایتونو د اختصاصي محکمې پر پریکړو کار کوي، څرګنده کړې، چې ډیر ژربه خپله پریکړه اعلان کړي، خو دا یې هم ویلي، چې د ولسي جرګې یوازې کم شمېر اوسني وکیلان دې محکمې ته د خپلو دوسیو په تړاو مراجعه کړي.

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com